د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعات آمریت

دریمه ګڼه (وری) ۱۴۰۳ : شماره سوم (حمل) ۱۴۰۳ لومړی مخ - صفحه اول



# اونیزه راستنیدنه / هفته نامه عودت

**دغه څوکۍ یو لوی مسؤولیت دی څوک چې په دې څوکۍ کار کوي، د اسلامي امارت د اصولو پر بنسټ آمر نه؛ بلکې یو خدمتګار دی.**

## د ازموینو ملي اداري رییس د مهاجرینو چارو وزارت له سرپرست سره ولیدل



د ازموینو ملي اداري رییس شیخ عبدالباقي حقاني نن د غوايي میاشتې پنځمه نېټه د مهاجرینو چارو وزارت له سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره د ده د کار په دفتر کې ولیدل.
ښاغلي عبدالباقي حقاني د مهاجرینو او راستنېدونکو په برخه کې د مهاجرینو چارو وزارت د خدمتونو د ستاینې په ترڅ کې وویل:
راستانه شوي مهاجرین پر موږ ټولو حق لري، موږ د شونتیا تر بریده دوی ته د زدکړو د زمینې په برابرولو کې همکار یو.
د وزارت سرپرست وزیر د ښاغلي حقاني د څرګندونو مننه څرګنده کړه او راستنو شویو مهاجرینو ته د زدکړو په برخه کې یې پر ګډې همکارۍ ټینګار وکړ.

## چهار تفاهم نامه همکاری میان وزارت امور مهاجرین و سه موسسه به امضا رسید

به ارزش ۹ صدو ۶۰ هزار و ۷۲۳ دالر امریکایی چهارتفاهم نامه های همکاری میان وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان و موسسات ده شانتی رضاکاره تولنه ، کمیته بین المللی نجات و مردم ضرورت مند به امضا رسید.
به اساس تفاهم نامه های یاد شده نهاد های متذکره در بخش های توزیع کمک های نقدی، تدویر جلسات آگاهی دهی، سروی و مصاحبه بمنظور جلب کمک برای ۷۴ هزارو ۷۳۶ تن در ولایات ننگرهار، هرات، خوست، لغمان و میدان وردک عرضه خدمات مینمایند.
تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وکفیل وزارت با نماینده های موسسات یادشده به امضا رسید.

## په مهاجرینو چارو وزارت کې خپلو اصلي ځایونو ته د بې ځایه شویو د لېږد په اړه ناسته وشوه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو په وزارت کې د مهاجرت نړیوال سازمان، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ او د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر د استازو په ګډون ناسته وشوه.
په دې ناسته کې خپلو اصلي ځایونو ته د بې ځایه شویو کسانو د لېږد او د هغوی د ستونزو د حل په اړه خبرې وشوې.
د بې ځایه شویو وضعیت ته د رسېدنې رییس مولوي سردار شېرزاد وویل: اوس د بې ځایه شویو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده، چې له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغانانو د جبري رایستنې له بیا پیلېدو څخه وړاندې خپلو مېنو ته ولېږدول شي.
شېرزاد زیاته کړه، په ټول هېواد کې لسګونه زره کورنۍ خپلو اصلي ځایونو ته د ستنېدنې غوښتونکي دي، چې لومړیتوب د کابل ولایت دی او زرګونه کورنۍ غواړي چې خپلو اصلي ځایونو ته ستانه شي.
نوموړي په دې برخه کې له اړوندو بنسټونو د همکارۍ غوښتنه څرګنده کړه، چې بېځایه شویو ته د کار، روزنې او زده کړو زمینه برابره کړي.
د بنسټونو استازو د وزارت د همغږۍ ستاینه وکړه، د همکارۍ ډاډ یې ورکړ او ویې ویل: له یو بل سره به په همکارۍ او همغږۍ عملي اقدام کوو، چې مثبتې پایلې ترلاسه کړو.

## معین مسلکی، از ریاست مهاجرین ولایت بلخ، دیدن بعمل آورد

مولوی عبد الرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان در سفرش به ولایت بلخ با رییس و کارمندان ریاست امور مهاجرین آن ولایت دیدار نمود.
آقای راشد در این دیدار هدف از سفرش را آگاهی بیشتر و رسیده گی بهتر به حل مشکلات مهاجرین که قرار است تازه طور جبری از پاکستان برگشت مینمایند در آن ولایت خواند.
معین مسلکی وزارت از کار کرد همه کارمندان ستایش نموده و آنها را به خدمت بیشتر به مهاجرین تشویق نمود
مولوی اسد الله وفا، رییس امور مهاجرین ولایت بلخ با قدر دانی از سفر محترم راشد به آن ولایت از اقدامات، فعالیت،کارکرد و مشکلات مهاجرین در آن ولایت موضوعات را با معین مسلکی شریک ساخت.
وی گفت: هزاران خانواده که از پاکستان طور جبری برگشت نموده بودند با رهبری والی همه ادارات ملکی و نظامی باهم یکجا همکاری همه جانبه نموده و خدمات ارزنده را ارایه نمودند.آقای وفا از همکاری اداره مهاجرین در هما هنگی ادارات ذیربط حکومتی در آینده به معین مسلکی اطمینان داد.







اونیز راستنیدنه عودت هفته نامه



## تر ۳ زرو زیات مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

۳۹۰٤ تنه افغان مهاجرین د تورخم او سپین بولدک له فرضي کرښو څخه خپل هېواد ته راستانه شول.

د کندهار د سپین بولدک د سرحدي آمریت د راپور له مخې ۳۹۹ کورنۍ چې ۲۱٤٦ تنه کېږي په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې او هلته د مهاجرینو له ریاست سره تر نوم لیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ، د مهاجرت او د خوړو نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.
او هرې کورنۍ سره د اسلامي امارت له لوري لس لس زره نغدي مرسته وشوه.

د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، ۳۳۵ کورنۍ چې ۱۷۵۸ تنه کېږي په جبري توګه له پاکستان څخه راستنې شوې او هلته د مهاجرینو له ریاست سره تر نوم لیکنې وروسته د نورو مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرت نړیوال سازمان دفترونو ته ور وپېژندل شوې.

## په ایران کې د افغانستان سفارت د تشریفاتو مسول د وزارت له مسلکي مرستیال سره ولیدل

د ایران په پلازمینه تهران کې د افغانستان اسلامي امارت د سفارت د تشریفاتو مسول مفتي محمد عالم نوراني د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد سره د ده د کار په دفتر کې ولیدل.

په دې لیدنه کې دواړو لورو په ایران کې په بېلابېلو برخو کې د افغان مهاجرینو د ستونزو په اړه خبرې وکړې.

ښاغلي راشد افغان مهاجرینو ته د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې په ایران کې د افغانستان د سفارت له کارونو څخه د ستاینې ترڅنګ له هغوی څخه د لا همکارۍ غوښتنه څرګنده کړه.

ښاغلي نوراني د افغان مهاجرینو د خدمت په برخه کې د وزارت د مسلکي مرستیال د هڅو ستاینه وکړه او ښاغلي راشد ته یې په روان کال کې د مهاجرینو لپاره د لا زیاتو اسانتیاوو او خدمتونو په برابرولو کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

## ایران څخه اشپک ویشت زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

په ایران کې مېشت اشپک ویشت او ۷۸۸ تنه افغان مهاجرین د هرات د اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.

د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، په دغو کسانو کې کورنۍ هم شاملې وې، چې ۲٦٥۷ تنه یې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.

دغه راز ۵۰۴ کورنیو سره لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه، ۱۲۷ بې سرپرسته ماشومان د خپلوکورنیو د پېژندنې په موخه وارچایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول او ۱۱۴۹ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمېټو له خوا په وړیا توګه سیمکارتونه ووېشل شول.

او ۱۸۹۲ تنه نور له روغتیایي خدمتونو برخمن شول.

## نشستی جهت ارائه خدمات به خانواده های برگشت کننده اجباری در ولایت ننگرهار برگزار شد

نشستی جهت ارائه خدمات به خانواده های برگشت کننده اجباری ازپاکستان در ولایت ننگرهار، برگزار گردید.

در این نشست که تحت ریاست مولوی سعید احمد بنوری معاون والی ننگرهار برگزارشده بود مسوولان ادارات محلی ملکی و نظامی حضور داشتند.

در نشست یاد شده اقدامات لازم برای اسکان کوتاه مدت، غذای پخته، توزیع مواد خوراکی و غیر خوراکی، کمک نقدی و سایر خدمات که برای خانواده های برگشت کننده لازم است تصامیم اخذ شد.



## بیش از ۳ هزار خانواده، در ۱۳ ولایت کمک شدند

در جریان یک هفته که گذشت ۳ هزار و۳۴۹ خانواده بیجاشده و برگشت کننده در ولایات قندهار، ننگرهار، هرات، بلخ، بادغیس، بامیان، تخار، میدان وردک، پروان، غزنی، بدخشان، فاریاب و سمنگان ازطریق واحد های دومی وزارت امور مهاجرین مساعدت شدند.

برای خانواده های مذکورکه بیجاشده و برگشت کننده بودند وهمچنان برای عده ای از خانواده های بی بضاعت و نیازمند ادارات امور مهاجرین و عودت کنندگان ولایا ت با همکاری شماری از سازمان های مدد رسانی بین المللی بسته های مساعدتی را که شامل مواد خوراکی و نقدی بود توزیع نمودند.




## سیلاب های اخیر در کشور زیان های مالی و جانی برجا گذاشت

به اساس گزارش از ریاست ها و آمریت های امور مهاجرین ولایات ننگرهار، پنجشیر، ارزگان، بدخشان، کنر، پروان، جوزجان، فراه و لغمان سیلاب در هفته روان زیان های هنگفت را برای باشنده گان ولایات یاد شده ببار آورده است.

از اثر این سیلاب ها ۱۹ تن شهید، ۱۰ تن زخمی، ۹٦۳ باب خانه طور قصمی و کلی تخریب، ٦۸۴ خانواده از محلات اصلی شان بیجاشده، ٦۰۰ جریب زمین زراعتی تخریب و ۱۲ کیلو متر سرک و راه مواصلاتی مسدود، ۲۰۳ راس مواشی تلف، ۲ هزار و ۸۷ تخته سولر از بین رفته است.

کمک های اولیه برای آنان در ولایات یاد شده ازجانب ادارات مبارزه با حوادث طبیعی و سره میاشت صورت گرفته و خانواد های یاد شده نیازمند به کمک های اولیه اساسی زنده گی میباشند.

ادارات امور مهاجرین ولایات یاد شده با همکاری و هماهنگی موسسات همکار سروی و شناسایی آن ها را آغاز و قرار است که به زودی برای آنان پاسخ دهی صورت گیرد.

## برنامه اموزشی ارتقای ظرفیت در وزارت امور مهاجرین اغاز شد

برنامه آموزشی ارتقای ظرفیت کاری در بخش اداره و مدیریت برای کارمندان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، دایر شد.

در محفلی که به همین مناسبت در تالار کنفرانس های وزارت برگزارشده بود شماری از روسای مرکزی و کارمندان این وزارت اشتراک ورزیده بودند.

مفتی مدیرگل احمدی، رئیس منابع بشری وزارت توضیحات بیشتر در مورد این برنامه به شرکت کنندگان ارائه نموده گفت: این برنامه آموزشی به منظور افزایش ارتقای ظرفیت کاری کارکنان وزارت، در دو بخش اداره و مدیریت برای ۸۸ تن کارمند ایجاد شده و تا سه ماه آینده ادامه خواهد داشت.

دراین برنامه روسای اطلاعات وارتباط عامه، رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان داخلی وعودت و ادغام مجدد نیز پیرامون موضوع سخنرانی نمودند.

